# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


پیشرو خپرونه، ۴۶ گڼه
۱۰ فبروری ۲۰۱۳

# «امنیتي تړون» د اسارت بله کړی

د روان کال په مې میاشت کې د افغانستان او امریکا د ولسمشرانو تر منځ د ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک شو، چې د دغه سند پر بنسټ، دواړه هیوادونه به له ۲۰۱۴ کال وروسته، د امنیتي همکاریو تړون لاسلیک کوي.

وړاندې له دې چې د دواړو هیوادونو تر منځ د ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک شي، د حکومت لخوا رابلل شوې لویې جرګې ورته د خاورې د پلورلو په بدل کې د لاسلیک کولو «مشروعیت» ورکړ، ځکه د جرګې ټول غړي هغه کسان وو چې د امریکا تر اسارت لاندې ژوند ته په نیکه سترګه ګوري او شتون یې په افغانستان کې د «تمدن» په لور ګام بولي.

اوس هم چې د امنیتي تړون د لاسلیک کولو خبره بیا ګرمه شوې ده، کرزي د دغه تړون د لاسلیک کولو په هکله په خپلو وروستیو ځرګندونو کې وویل چې هغه به د امریکا او افغانستان تر منځ د امنیتي تړون د لاسلیک کولو لپاره لویه جرګه راوبلي او د ملت له «استازو» څخه به وغواړي څو د امریکایي سرتیرو د قضایي خوندیتوب په اړه ورته اجازه ورکړي! ولسمشر زیاته کړه چې هغه ډاډمن دی چې «استازي» به د دې کار لپاره اجازه ورکړي!

امنیتي تړون چې په حقیقت کې د ستراتیژیک تړون دوام دی، له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د شتون لپاره «قانوني» لاره هواروي. جیمز وارلیک چې د تړون د لاسلیک کولو لپاره د امریکایي پلاوي مشري په غاړه لري، ویلي دي: «دغه سند په افغانستان کې د امریکایي پوځي ځواکونو د شتون د دوام لپاره د افغانستان د دولت په موافقې قانوني اډانه چمتو کوي.»

د امریکا او افغانستان تر منځ د «ستراتیژیک تړون» له لاسلیک وروسته، د افغانستان ختیځې سیمې د پاکستاني پوځیانو لخوا د سلګونو توپونو تر برید لاندې راغلې چې په ترڅ کې یې لسګونه هیوادوال شهیدان او سلګونه کورنۍ له سیمې وتښتېدې، خو امریکا له افغانستان څخه «دفاع» ونکړه ځکه د دواړو هیوادونو تر منځ د «ستراتیژیک تړون» سند د دوړو لاندې ورک شوی و!

نه «ستراتیژیک تړون» او نه «امنیتي تړون» چې د یوه بل بشپړ کوونکي دي، زموږ د ولس پر ټپونو پټۍ ایښودای شي، ځکه بهرني هیوادونه او په ځانګړې ډول امریکا او نورو سترو ځواکونو د دې لپاره زموږ پر هیواد یرغل کړی نه دی، چې موږ ته سوله، سوکالي، دموکراسي، د بشر حقونه او نور راولي، بلکې هر یو یې خپل ځانګړي لوټ کوونکي ستراتیژیک اهداف او موخې تعقیبوي، او د دې کار لپاره په افغانستان کې میلیاردونه ډالر لګوي او خپل سرتیري قرباني کوي.

امریکا هغه ستر پانګه وال هیواد دی چې خپل ټول تاریخ یې له یوې ورځې جګړې پرته تیر کړی نه دی. دغه ټولې جګړې چې زیاته برخه یې د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره تر سره شوې، د میلیونونو بیوزلو انسانانو وینې

يي تويي کړي او د هيوادونو خپلواکي يي له منځه وړلې ده. همدا اوس د امريکا متحد ايالتونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ۸۰۰ په شاوخوا کې پوځي اډې لري او د دوه ميليونو په شاوخوا کې سرتيري يې په دغو اډو کې پراته دي، څو د امريکا ګټې خوندي کړي او د خطر په صورت کې په څو ساعتونو کې د نورو هيوادونو په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي.

افغانستان هم چې د دغه زبرځواک د آسيايي ستراتيژۍ يو تر ټولو مهمه سيمه او مهم هدف دی، د امريکايي سرتيرو اوږدمهال شتون ته اړتيا لري. دغه اوږدمهال شتون که په «قانوني» ډول وي، هم به «مشروعيت» ولري او هم به سرتيري په خپلو اډو کې په ډاډه زړه پراته وي، خو هغه څه چې به بيوزلي افغانان له دغه «تړون» څخه تر لاسه کړي، هغه به د مستبدو واکمنانو او خاينو مشرانو او چارواکو زورزياتی وي چې د قانون او بهرنيو سرتيرو په ملاتړ به د خلکو ويني تويوي او ژوند به يې له لازيات ګواښ سره مخامخوي.

په تيرو يولسو کلونو کې د امريکايي او نورو بهرنيو سرتيرو شتون په افغانستان کې په ډاګه کړه چې ستر پانګه وال هيوادونه يوازې خپلې ګټې په پام کې نيسي او چمتو دي د دغو ګټو د خوندي کولو يا لاسته راوړلو لپاره هيوادونه په کنډوالو بدل کړي. دغو سرتيرو او پوځي ځواکونو په تيرو يولسو کلونو کې زرګونه بې ګناه افغانان وژلي، د هغوی پر ختيڼو کورونو يې بمونه غورځولي، ودونه يې ورله په وينو لړلي، کروندې او بڼونه يې ورله ويجاړ کړي، په بند کې يې اچولي، په سپيو يې داړلي، د هغوی سپکاوی يې کړی، او داسې نور. په همدې اساس زموږ ځوريدلی ولس په هيڅ ډول نه غواړي چې امريکايي ځواکونه په افغانستان کې اډې ولري او افغان وژني ته دوام ورکړي.

له امريکاييانو سره د «امنيتي تړون» لاسليک کول نه يوازې خلکو ته سوکالي راوستلی نشي، بلکې د اسارت کړۍ زموږ د کړيدلي ولس په غاړه لا نوره هم ټينګوي او د خلکو بدبختۍ او کړاونه لازياتوي، ځکه هيڅ پيشو د خدای د رضا لپاره موږک نه نيسي!